PROPERTY OF ACKU


دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان


## درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګورې چې الله پاک د ځمکې ټول څيزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چليږي. او اسمان يې ټينګ نيولی چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي يې له شکه الله پاک په خلکو ډير مهربان او ډير رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې يې ژوندي کړئ بيا مو مړه کوي او بيا مو بيرته راژوندي کوي. رښتيا هم چې انسان ډير ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آيتونه)

## درس حديث

از ابو عمر يا ابو عمره سفيان بن عبد الله رضی الله عنه روايت است که گفت:
گفتم: يا رسول الله برای من در اسلام سخنی بگو که بعد از تو از کسی نپرسم. فرمود: بگو بخدا ايمان آوردم (آمنت بالله) و سپس استقامت کن و پايدار باش. (رياض الصالحين)


شهادت پنځم کال، ۱۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۱۱ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۲هـ.ل د غبرګولی ۲۲ مه د۱۴۳۴ هـ ق د شعبان ۴ مه د۲۰۱۳ م د جون ۱۲ مه


# کابل کې ځانمرګي بريد ۱۷ تنه ووژل

**په وژل شويو او ټپيانو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون د محکمې کارکوونکي او لاروېان شامل دي.**

کابل، رسنۍ:
کابل ښار کې د سترې محکمې په دروازه کې د ځانمرګي بريد له امله ۱۷ تنه وژل شوي او ۴۰ نور ټپيان دي.
دا څرګندوني د کابل د امنيه قوماندانۍ مرستيال سمونوال محمد داوود امين پژواک خبري اژانس ته وکړې.
دغه بريد پرون له غرمې وروسته په څه باندې څلورو بجو د يوه کرولا موټر له لارې، په داسې حال کې تر سره شوی، چې د محکمې کارکونکي کورونو ته روان وو او غوښتل يې چې موټرو ته پورته شي.
امين وايي، په وژل شويو کې دوې او په ټپيانو کې اته ښځې شاملې دي.

پاتې دريم مخ

مشرانو جرګه:

## فعاليت ارگان های کشفی ضعيف است

کابل، رسانه ها:
مشرانو جرگه، افغانستان فعاليت نهاد های کشفی بخاطر عدم جلوگيری از نفوذ مخالفين مسلح به داخل شهر های کشور را مورد انتقاد قرار داد.
يک روز پس از حملات گروهی مخالفين مسلح بر شهر کابل و ولايت زابل، مشرانو جرگه، افغانستان نهاد های کشفی را متهم به سهل انگاری در کار های کشفی کرد.
در نشست روز سه شنبه تعداد زياد از سناتوران روی مشکلات امنيتی و چگونگی راه يافتن مخالفين مسلح بر شهر های بزرگ کشور بحث و گفتگو کردند.
اين سناتوران می گويند که نهاد های امنيتی به گونه درست وظايف شان را انجام نمی دهند و همين مساله سبب شده تا مخالفين با سلاح ثقيله و خفيفه وارد شهر ها شوند.
نجيبه حسين يک تن از سناتوران در اين مورد چنين می گويند: (نهاد های کشفی در مقابل مردم افغانستان جوابده اند که چرا بررسی درست را انجام نمی دهند. همان طور که دوستان گفتند ارگان های کشفی، چه امنيت ملی و چه بخش های کشفی وزارت های دفاع و داخله آنقدر فعال نيست.)

بقيه در صفحه ۳

مارشال فهيم:

## خليلزاد و برادران كرزی امريکايی وعامل نگرانی مردم هستند

کابل، رسانه ها:
مارشال محمدقسيم فهيم، معاون اول رئيس جمهوری افغانستان گفته که افراد (وابسته به امريکا) در ميان افغانها نسبت به انتقال قدرت سياسی نگرانی ايجاد می کنند.
آقای فهيم که در کنفرانس واليان سخن می گفت، از زلمی خليلزاد، سفير پيشين امريکا در افغانستان و برادران حامد کرزی به عنوان افراد (امريکايی) ياد کرد.
مارشال گفت: (فرمانده امريکايی، ژنرال جوزف دانفورد، پيش من آمد. دو و نيم ساعت با من صحبت کرد. در آخر گفت که مردم تشويش دارند، چطور می‌شود که اين تشويش را رفع کرد - او از انتقال و اين گونه مسايل حرف زد. من گفتم؛ مردم از انتقال [مسئوليت نظامی و امنيتی] تشويش ندارند، از انتقال سياسی تشويش دارند.)
**آقای فهيم گفت: همين تشويش را يک تعداد کسانی که خود را وابسته به شما و مربوط به شما می‌دانند، در بين مردم افغانستان ايجاد کرده‌اند.**

بقيه در صفحه ۳

کوبيش:

## د ملکيانو په مرګ ژوبله کې ۲۴ فيصده زياتوالی راغلی

کابل، رسنۍ:
د ملګرو ملتونو يوه نوې خبرنه ښيي؛ چې د روان ميلادي کال په لومړيو پنځو مياشتو کې په افغانستان کې د جګړې له امله نږدې دوه نيم زره ملکيان وژل شوي او ټپيان شوي دي.
د دې خبرنې له مخې د تير ميلادي کال د همدې مودې په پرتله د ملکيانو په مرګ ژوبله کې څلورويشت فيصده زياتوالی راغلی.
د ملګرو ملتونو په دې نوې خبرنه کې بيا

پاتې ۳ مخ

فيضی:

## گشايش دفتر برای طالبان در قطر يک مساله‌ء پيچيده است

کابل، رسانه ها:
حکومت افغانستان می گويد: گشايش دفتر برای طالبان در قطر، يک مساله پيچيده است و شايد به وقت بيشتر نياز داشته باشد.

**هدف سفر رييس جمهور کرزی به دوحه، شرکت در کنفرانس امريکا و جهان اسلام و ديدار و مشوره با مقامات و رهبران قطر، در مورد وضعيت فعلی افغانستان و پروسه صلح در اين کشور بود**

رييس جمهور کرزی و هيات همراهش در سفر به دوحه پايتخت قطر، با امير آن کشور ديدار کرده و جوانب مختلف روند صلح افغانستان را مورد بحث قرار داده است.
ايمل فيضی سخنگوی رياست جمهوری

بقيه در صفحه ۴

## دسي آی اې پخوانی کارکونکی او د اړيکو خارنې راز افشا کونکی "بې درکه" شو

امريکا، رسنۍ:
د امريکا د خارګرې اداري سي ای اې هغه پخوانی کارکونکی، هانګ کانګ کې له هوټله بې درکه شوی، چې د امريکا د حکومت له لوري يې د انټرنيټ خارنې په باب معلومات افشا کړي و.
۲۹ کل ايډورډ سنوډن د دوشنبې په ورځ هغه هوټل پرېښود، چې په کې استوګن ؤ او له هغه وروسته نوموړی بې درکه دی، خو داسې باور کيږي، چې لا هم هانګ کانګ کې دی.

پاتې ۳ مخ

اردوغان:

## تخريب تصوير ترکيه براساس برنامهٔ منظم اجرا می شود

ترکيه، رسانه ها:
رجب طيب اردوغان صدراعظم ترکيه می گويد، تظاهرات که دو هفته قبل در شهر استانبول آغاز شد، توسط افراد دارای اجندای تخريب سياسی، به گروگان گرفته شده است.
رجب طيب اردوغان به اعضای پارلمان در انقره گفت:
(به مثابه، يک بخش از برنامه، منظم طرح ريزی شده، تلاش ها برای تخريب تصوير ترکيه عملی می شود.)
رجب طيب اردوغان صدراعظم ترکيه همچنان از تظاهر کننده گان خواست، ميدان مرکزی تقسيم را که اعتراضات از آنجا آغاز شد، تخليه کنند.
رجب طيب اردوغان گفت:
(من از تظاهر کننده گان می خواهم به تصوير بزرگتر نگاه کنند تا ببينند که چی نوع بازی براه انداخته شده است. من به مثابه، صدراعظم اين انتظار را دارم که اگر صادق اند از اين بازی خارج شوند.)

بقيه در صفحه ۴

## آرايش جديد در سيمايی سياسی کشور!

(نورن غلام سخی) - صفحه دوم

## ترهگری که عکس العمل ؟!!

(محمد خليل) - دريم مخ

## توحيدي: اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې د رسنيو د سرغړونو کميسيون لغوه کړي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د ازادو رسنيو اتحاديې د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارته غوارې؛ چې د رسنيو د سرغړونو کميسيون دې لغوه او پرځای دې د ولسي رسنيو کميسيون فعال کړي.
ژورنالیستان هم وايي، د رسنيو د سرغړونو کميسيون تر ډيره ځايه له حکومت پلوه افرادو جوړ دي او بايد پرځای يې بل کميسيون وټاکل شي.

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

## یوازې ملي یووالې د هېواد د بقا او استحکام ضمانت ورکولې شي

د افغانستان د ټولو سیاسي ګوندونو مشران که هغوی په حکومت کې دي او که له حکومت نه دباندې ټول همدا ادعا لري چې د خپل دین، خاورې او ولس خیر او ښېګنه غواړي خو که د عمل په ډګر کې ورته وکتل شي نو برعکس هغه کړنې ترسره کوي چې سراسر د هېواد، دین او ولس په تاوان تمامېږي، ځکه چې د هېواد او ولس د خدمت لپاره ضروري ده چې ملي یووالې او همغږي موجود وي، له وطن، خاورې او ولس سره د مینې سوچه ولوله موجزنه وي، مګر متأسفانه زموږ د افغانستان په اکثرو مشرانو کې تراوسه پورې نه د ملي یووالې د جذبې څرک ولیدل شو او نه هم د خدمت، هر یو ځانله ځانله ګزوي او آن د تعریف شویو ملي ګټو په ترسره کولو کې هم په یوه لاره نه ځي، د مثال په توګه د خاورې، عقیدې او د ولس ترقي د ټولو افغانانو ګډ مسؤولیت او دنده ده مګر وینو چې په دې شریک مسؤولیت کې هم د یو بل پښې وهي او د یو بل په خلاف د جګړې په ډګر کې ولاړ دي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د هېواد، عقیدې او استقلال دفاع او ملي وحدت ساتل د ټولو هغه عمومي او شریکه فریضه ده چې د نړۍ د هېڅ یو هېواد ولسونه وربانديې اختلاف نه لري او دا کارونه ټول په ګډه پرمخ بیایي خو متأسفانه په افغانستان کې په لوی لاس ددې برعکس کارونه کېږي.

د دوست او دښمن په تعریف کې په یوه خوله نه دي، که یوه ډله یې دوست بولي نو بله ډله ورته دښمن وایي، همداراز ملي وحدت یو اصل دی او د خپلې خاورې او استقلال د ساتلو لپاره بنسټیز رول لري، ولی له بده مرغه په دې هېواد کې د ملي یووالې پرځای قومي، ژبني او سمتي سیاست ته وده ورکول کېږي، دلته د پردیو هېوادونو د فرهنګ د دودولو مسابقې روانې دي، په پېژند پاڼو کې د افغان نوم د لیکلو پرځای د قوم د لیکلو پر سر جګړې کېږي، د پوهنتون او دانشګاه د ویلو په سر د یو بل وینې تویولو ته چمتو ولاړ دي، لنډه دا چې په یو ځیز کې هم همغږي او اتفاق نه لیدل کېږي، د ولس د خدمت حال خو دا دی چې بیت المال د ګوتو په شمار د څو تنو چارواکو په ځولیو کې دی، یو مامور په کال کې دوه زره ډالره نشي ترلاسه کولې مګر د چارواکو خپلوان او زامن په میاشت کې له پنځو نه تر لس زره ډالرو پورې معاشونه اخلي، د هېواد ټوله سرمایه دهغوی په واک کې ده، عام ولسي وګړو ته خو دوه وخته وچه ډوډۍ نه رسېږي مګر لوړ پوړي چارواکي په امریکا او اروپا کې مجللې ماڼۍ جوړوي او د میلیونو ډالرو سرمایه بهرنیو هېوادو ته انتقالوي، پر لکونو جریبو زمکه چارواکو او زورواکو د غصب پنجې ښخې کړې او بیچاره لکونه افغانان بې کوره او بې سرپناه عمر تېروي.له دین او اسلام سره د مینې دعوه خو بالکل رسوا شوې، د اسلامي حکومت غوښتونکي پخپلو کې ګوته په ماشه دي، په عدالتونو کې یو کار هم له رشوت او واسطې پرته نه کېږي، قاضیان بدنام او ولس ترېنه سرټکوي. که د یو هېواد د سیاسي مشرانو او ګوندونو دا حالت وي چې لږ تر لږه په مسلمو اصولو باندې هم نه شي راغونډیدلې او په هر څه کې د اختلاف کولو قسمونه یې خوړلي وي، هغوی څنګه کولې شي د خپلې عقیدې، خاورې، استقلال او وقار ساتنه وکړي؟!

څرګنده خبره ده چې د هېواد، عقیدې او استقلال د ساتنې او د ولس د ریښتوني خدمت لپاره ریښتونی ایمان، ملي یووالې، همغږي، د قانون احترام او دیانت ته ضرورت دی، په ځانګړې ډول په اوسنیو شرایطو کې چې افغانستان په حساس پړاو کې قرار لري ملي یووالې او همغږي له بل هر وخت نه زیات مهم دی. ښه به دا وي چې د هېواد ټول سیاسي او مذهبي مشران ددغو حساسو او سرنوشت ټاکونکو شرایطو په نظر کې نیولو سره له خپلو ټولو بې اساسو اختلافاتو څخه لاس په سر او د خپل ولس په وړاندې د مشرۍ دروند مسؤولیت ادا کړي.

تورن غلام سخی

# آرایش جدید در سیمایی سیاسی کشور!



چند ماه و اندی بیش از زمان حکمروایی رئیس جمهور کرزی باقی نمانده است، با گذشت هر روز و تقرب به اصطلاح به ده تحول که باعث تهجیات فکری و سبب نابسامانهای اجتماعی، سیاسی و اقتصادی گردیده، مردم ما را نسبت به آینده مغموم و در اندیشه فرو برده، آرامش فکری همه را برهم زده و کشمکش های نظامی هم بخاطر برتری و امتیاز طلبی در هر گوشهٔ از کشور ما شکل جدی تری را بخود اختیار نموده است.

وضعیت مالی و پولی، اقتصاد ما را بطرف انفلاسیون ناهنجار که از برکت اقتصاد بازار نصیب ما گردیده هر روز تهدید مینمایند. صادرات پنج فیصد و واردات ٤٥ فیصد ما گراف بیکاری را آنقدر بالا برده که تیوری فرار مغزها از کشور جنبهٔ تطبیقی را بخود اختیار نموده و میزان جرایم را به حد اعلی کشانیده است، بیکاری، تورم پولی، مدیریت های غیر مسلکی در امور اقتصادی و سیاسی همچنان فساد اداری، قاچاق مواد مخدر، و زندگی در زیر خط فقر، توطئه های بیرونی همه سبب پیچیده گی اوضاع سیاسی در کشور گردیده، هر لحظه وضع

را بدتر از پیش ساخته و بطرف بحرانهای عمیق میکشاند. طوریکه که ما نتوانستیم در ده سال گذشته از تمام امکانات جهانی استفاده اعظمی نمائیم. همه فرصت های طلایی را از دست دادیم، حد اقل نتوانستیم صلح و آرامش را در این کشور که آزمند صلح اعاده نمائیم. با از دست دادن همهٔ امکانات و فرصت ها که امروز سبب همه چالش ها گردیده است، ما را متوجه آینده ها ساخته است. امروز به آینده باید اندیشید و باید فکر نمود. که این کاروان با عالم از مصایب و مشکلات بطرف آینده های نه چندان دور روان است، چطور میتوان آنرا به منزل مقصود رساند. ما میتوانیم با نگرش واقعبینانه و تفکر صحیح و تحلیل همه جانبه از وضع رقت بار در کشور که باعث تداوم جنگ و خونریزی گردیده، نگرانی های آینده را از ذهن مردم خود دور نمائیم. در مقابل مشکلات پنجه نرم کنیم و نگذاریم اژدهای توطئه ها، کام ما را بیشتر بدرد و از گلو و قلب ما بگذرد.

در چنین وضع نابسامان و فشارهای منطقوی و بین المللی که سلامت و جودی کشور ما را مورد تهدید قرار داده، آرایش سیاسی بخاطر رسیدن به کرسی ریاست جمهوری و انتخابات پیشرو و اصلاحات در قانون و نظام، گروه ها، احزاب، سازمانهای اجتماعی، متنفذین قومی، سیاست گذاران، پالیسی سازان همه و همه با گردهمایی ها، شب نشینی ها، نشست های بیرون از کشور و ملاقاتها با مقامات دولتی، نشست ها بین احزاب سیاسی و سازمانهای اجتماعی در مرکز و ولایات و بیرون از مرزها ادامه دارد.

هر کسی با طرز تفکر از حزب، گروه و یا همفکران خویش وارد میدان کارزار انتخاباتی می شود، و با ارایه تصاویر و ارقام دلپذیر، این و آن را بطرف خود جلب مینماید. گهی در یک گوشه بخاطر رسیدن بقدرت سیاسی ائتلاف صورت میگیرد و گهی در آن گوشه، تبلیغات وسیع از طریق رسانه های صوتی و تصویری امواج وسیعی تبلیغاتی را در فضای کشور پخش مینماید. چهره های مختلف از طرف گروه ها معرفی می شوند. باری احزابی که شیرازهٔ تشکیلاتی و اداری شان برهم خورده و به انقطاب سیاسی دچار شده اند، با هم جمع می شوند و طرح های را با یکدیگر ارایه مینمایند و گاهی چند گروه با هم نشست نموده، ائتلافی را ترتیب میدهند و برنامه های کاری خود را با یکدیگر تبادله مینمایند.

زمانی دولت تلاش مینماید، تا بخاطر بقایی سیاسی و وضع زندگی آینده شان طرح و برنامه خویش را در تفاهم با گروه ها و احزاب از طریق سخن گوها و رسانه ها بمردم ارایه نمایند، همچنان پارلمان کشور که از گروه ها و احزاب مختلف تشکیل گردیده، برنامه و فکر خود را در ارتباط به آینده کشور با هم شریک میسازند. لحظات هم افراد که در بیرون از کشور زندگی میکنند، با اخذ ویزه ها و ستیزن شیپ های که دارند بخاطر گرفتن قدرت سیاسی و یا اشتراک در حاکمیت آینده وارد کشور میشوند.

از جانبی همسایگان طماع که از گذشته ها بدینسو به خاک ما چشم دوخته از طرق و زرایع مختلف با ایجاد ناامنی و شیپور جنگ در صدد متلاشی ساختن وحدت ملی ما و تصاحب سرمایه های دست نخوردهٔ زیر زمینی ما میباشند، آنها هم بفکر آن اند که در قدرت سیاسی آینده کشور به نحوی تاثیرات سیاسی خویش را داشته باشند. و از سوی دیگر جامعه جهانی بخاطر دفع خطرات جنگ از سرحدات شان کشور ما را به یک جبهه وسیع نظامی تبدیل نموده اند. با پلان های استراتیژیک منطقوی و بین المللی و با طرح های مختلف که بخاطر تأمین صلح و تدویر انتخابات دارند میخواهند در نظام آینده کشور و در انتخابات پیشرو سال (٢٠١٤) فرد مورد قبول و دلخواه خود را به کرسی اقتدار برسانند. تا از طریق آن بتوانند به اهداف که دارند خود را متوصل سازند.

به همین ترتیب مخالفین نظام هم آرام نگرفته و حملات خود را تشدید بخشیده اند و طرح خود را که خارج شدن قوای بین المللی از افغانستان است ارایه میدارند. تا بعد از آن در انتخابات شرکت نمایند، همگی در تنگنایی تفکر فرو رفته اند، تا حال هیچ حرکت نتوانسته چهره مناسب را وارد میدان نمایند. زیرا همه میدانند، بخصوص ملت مسلمان پخته شده در کوره جنگ، که رهبری و قیادت این ملت سلحشور و کفر ستیز کار بس سهل و آسانی نیست. که هر که آنچه میخواهد انجام دهد. بل: مواصفات برای کاندید ریاست جمهوری و اصول شرعی که برای ایجاد نظام سیاسی بر مبنای دید اسلامی موجود است، باید مطابق به آن عمل نمود، در غیر آن صلح پایدار و استقرار نظام سیاسی و تأمین وحدت ملی ممکن نخواهد بود.

# ترهګري که عکس العمل؟!!

محمد خلیل

له څه شک پرته هر عمل عکس العمل لري، پانه هله خوځېږي چې باد والوزي، قهر او کرکه هله پاړېږي چې پر چا ظلم او تیری وشي.

که د تاریخ پر پانو نظر واچوو نو دا واقعیت به ترلاسه شي چې د اسلام د مقدس دین له منلو سره سم مسلمانان د ظالمو او جابرو ځواکونو د ظلم او زیاتي ښکار شوي دي، تل د هـمدوی په خاوره، عقیده او فرهنګ یرغل شوی او تل دهغوی وینه بیول شوی.

د اسلام سپېڅلی دین ټولو انسانانو ته د امن درس ورکړی او خپلو پیروانو ته په کلکه ویلي دي چې تاسې کله هم د یو انسان پر مال، عزت، ابرو، عقیده او خاوره تیری مه کوئ او که بل چا دربانديې تیری وکړه نو تاسی هم وربانديې دهغوی د تیـــری په اندازه تیری وکړئ او له هغې نه زیاته تیری مه کوئ.

د تأسف ځای داده چې غربیانو تل له مسلمانانو سره د ټکې برګی او ظلم زیاتي سلوک خپل کړی دی، ددې پرځای چې د مطلق بشر هر ډول حقوقو ته پاملرنه وکړي او ټولو ته په یوه سترګه وګوري برعکس د خپلو همفکرو او هم مسلکو وګړو ننګه او ملاتړ کړی، له اندونیزیا نه نیولې تر سوډان، برما، فلپین او فلسطین پورې هر چېرته له تعصب او توپیر څخه یې کار اخیستی او په پرلپسې توګه منظم کوښښ کوي چې اسلامي هېوادونه یا تجزیه کړي او یا یې هم دومره کمزوري کړي چې د غرب هر فرمایش ته لبیک ووایي، پخپلو پخپلو هېوادو کې د هغوی قانون او فرهنګ ته وده ورکړي او دهغوی په رنګ کې رنګ شي.

ځکه خو د غرب د همدغه بې انصافي او تعصب له کبله په اسلامي نړۍ کې د غرب په خلاف د کرکې ریښې زرغونېږي او پرخلاف یې د مقاومت کولو روحیه پیاوړی کېږي.

په منځني ختیځ کې چې اسرائیلو د فلسطین په خلاف د ظلم او استبداد کوم اور بل کړی او په مسلسل ډول دهغوی پر خاوره قبضه کوي او خپل ښارګوټي پکې جوړوي، په حقیقت کې دا هېڅ دردمند بشر ته د زغملو نه دي خو امریکا او نورې غربي نړۍ ددې پرځای چې د اسرائیلو دغه ناروا کړنه وغندي لګیا دي په پوځي، سیاسي، اقتصادي او سفارتي ډګر کې ملاتړ یې کوي. که فلسطیني ولس د خپلې دفاع په جګړه کې دغو لکو پر کانو هم کوم اسرائیلي عسکر ټپي کړي نو دېته ترهګري ویل کېږي خو چې اسرائیل په زرګونو فلسطیني ولس د بم او باروتو په لمبو کې ستي کړي دا نو دهغوی قانوني حق ګڼل کېږي.

په افغانستان کې چې د تېرو یولسو کلو راهیسې امریکا او ناټو ځواکونو د ترهګرۍ تر عنوان لاندې په جګړه کې د ترهګرۍ کوم ویرونکی انځور ښکاره کړ هغه هم په مسلمانانو کې یو ډول هیجاني کیفیت او بې باوري پیدا کړی، هغوی ددې پرځای چې صرف او صرف له خپل کار سره کار لرلې وای، برعکس د قرآن کریمونو د سوځولو، پر مړو متیازو کولو، د تنکیو ماشومانو، زنانه و او سپین ږیرو په ویشتلو او پر سپیانو د داړلو بوږنوونکی لوبه یې پیل کړه، برسیره پر دې ددیموکراسۍ تر نامه لاندې چې په افغانستان کې د فحش او ابتذال د ترویج لپاره کومه پانګونه کړې دا هم د افغانانو په ذهنونو کې دا خبره یقیني کړې چې اصلاً امریکا او غربي نړۍ په افغانستان کې د خپلو فکري او فرهنګي اهدافو د پلي کولو لپاره راغلې نه د افغانستان د ژوند د ښه کولو او پرمختګ لپاره.

غربي نړۍ چې له اوږدې مودې نه په فکري، فرهنګي، اقتصادي او نورو ډګرونو کې د لویې غوښتنې او استحصال کوم لیونې ذهن پخپلو مغزو کې ځای پرځای کړی او په ځانګړی ډول اسلامي هېوادونه یې تر خپل هدف لاندې نیولي دي د اسلامي نړۍ په زیاترو هېوادو کې په طبعي ډول د امریکا او دهغې د اندیوالانو په خلاف د مقاومت ولوله پیاوړی شوې.

که د امریکا او غربي نړۍ چارواکی واقعاً غواړي چې راتلونکی لپاره دا لانجې او شخړې ختمې او نړۍ د امن په بڼ بدله شي نو ددې کنجې دهغوی په لاس کې دی، که هغوی همدا نن د مسلمانانو په خلاف له خپلې لویې غوښتنې پالیسی څخه تیر شي او د نړۍ له مسلمانانو سره د بشریت په بنسټ عادلانه او منصفانه اړیکې ټینګې کړي، په فلسطین او نورو هېوادو کې د مسلمانو په خلاف د ظلم او تیري د ملاتړ پرځای دهغوی د روا حقوقو ملاتړ وکړي نو په یقیني ډول ددې خبرې وړاندوینه کیدلې شي چې په ډېر لږ وخت کې به د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ناامنۍ څپې ختمې او ولسونه به یې د امن په فضاء کې د ژوند تیرولو له خوږ نعمت څخه برخمن شي خو که غربیان له خپلې رواني غلطې پالیسي نه لاس په سر نه شي او د تېر په څېر خپل استحصالي او استعلا غوښتنې سیاست ته ادامه ورکړي نو لیرې نه ده چې حالات به نور هم کړکیچن او د جګړې دا اور به په ځنګلونو کې د لګیدلې اور په څېر به نور هم سرایت وکړي چې مړ کول به یې د هېچا په وس کې نه وي.

---

### کابل کې خانمرګي برید ...

د ده د نورو وژل شويو او ټپيانو په اړه نور معلومات ورنکړل.

خو د کابل د امنیه قوماندانۍ د جنايي څېړنو مشر مل پاسوال محمدظاهر له پېښې لږ وروسته پژواک ته ویلي و، چې په وژل شويو او ټپيانو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون د محکمې کارکوونکي او لارویان شامل دي.

ده زیاته کړه و دې ویلي، چې له یادو کسانو څخه څو ته یې د محکمې کارکوونکي او څومره لارویان دي. په دې برید کې چې د محکمې په څنګه دروازه کې شوی، یو کاسټر موټر په بشپړ ډول له منځه تللی او ۴ کاسټر او ۷ کرولا ډوله موټر زیانمن شوي دي.

د عامې روغتیا وزارت د روغتونونو مشر ډاکټر محمدکبیر امیري پژواک ته وویل، چې د کابل ښار روغتونونو ته د اتو تنو جسدونه او ۲۲ ټپیان وروړل شوي دي.

طالب ویاند ذبیح الله مجاهد وايي، چې دغه برید د دوی یو تن (انجنیر عبدالواجد) ترسره کړی دی.

د ده په وینا، په دې برید کې د محکمې ۵۰ ته قاضیان او نور کارکوونکي وژل شوي او ګڼ شمېر نور ټپیان دي.

هغه وایي، د ستري محکمې پر کارکوونکو دغه برید ځکه شوی، چې د دولت وسله وال مخالفین پر اعدام محکوموي او ظلم کوي.

له بلې خوا ولسمشر حامد کرزي یاده پېښه په کلکو ټکو غندلې ده. له ارګ څخه پژواک خبري اژانس ته په رالېږل شوي خبرپاڼه کې راغلي، چې حامد کرزي ویلي: "دغه برید یو ځل بیا وښوده چې طالبان د اسلام د دښمنانو په خدمت کې دي."

ولسمشر د وژل شویو کسانو له کورنیو سره همدردي ښودلې، د تسلیت مراتب یې ورته وړاندې کړي او ټپیانو ته یې د عاجلې روغتیا هیله کړې ده.

تېره ورځ هم اووه وسله والو مخالفینو له دوو نیم کاره ودانیو څخه د کابل پر هوايي ډګر برید وکړ، چې په پایله کې یې بریدکوونکي ووژل شول او دوه ملکي وګړي برسېرن ټپیان شول.

### فعالیت ارګان های کشفی ...

تلاش نمودیم تا در ارتباط به این اظهارات سناتوران نظر ریاست عمومی امنیت ملی را داشته باشیم، اما موفق نشدیم.

اما پیش از این مسوولان این اداره از دست آورد های زیاد در بخش کشف و دستگیری مخالفین مسلح که قصد حملات گروهی را داشتند، سخن گفته اند.

از نهاد های کشفی در حالی انتقاد می شود که روز دوشنبه، کابل و ولایت زابل شاهد حملات گروهای مخالف مسلح بود.

هفت مخالف مسلح با سلاح ثقیل و خفیف بر ساختمان نیمه کاره در شمال میدان هوایی کابل پنهان شدند و از همان جا با نیرو های امنیتی افغان به درگیری پرداختند.

پس از چهار ساعت درگیری تمام مهاجمان از سوی نیرو های امنیتی افغان از پا در آمدند و به گفته، مسوولان امنیتی در این حادثه به نیرو های امنیتی افغان و افراد ملکی آسیب نرسیده است.

همزمان با این حادثه، هفت مهاجم دیگر بر ساختمان شورای ولایتی زابل حمله کردند.

به اساس گزارش ها در آن حادثه یک تن کشته و ۱۸ تن که بیشتر آنان افراد ملکی اند، زخم برداشتند. در این حال سناتوران فعالیت نیرو های امنیتی افغان برای مهار کردن حملات گروهای روز گذشته، مخالفین مسلح در شهر کابل و زابل را ستایش کردند.

این سناتوران همچنان می گویند که یگانه راه حل مشکلات نهاد های کشفی، گماشتن افراد مسلکی در این ارگان ها می باشد.

پس از بحث های طولانی رییس مشرانو جرگه به کمیسون امور دفاعی این جرگه دستور داده تا هر چه زودتر با مسوولان ارگان های کشفی در کشور گفتگو کرده و نتیجه آن را به سمع اعضای مشرانو جرگه برسانند.

وی در مورد گفت:

"حمله انتحاری کابل و ولایت زابل را محکوم می نمایم و نیرو های امنیتی و پولیس را که در این حملات مردانه جنگیده اند تقدیر می نمایم و به کمیسون امور دفاعی وظیفه می سپارم تا در مورد مشکلات امنیتی ولایات دایکندی، فاریاب کنر و نورستان و ولایات مختلف افغانستان با مسوولان امنیتی مخصوصاً ارگان های کشفی صحبت نموده و نتایج آن را به مجلس ارایه نمایند."

شماری از مردم و کارشناسان افغان همواره انتقاد کرده اند که نیرو های امنیتی و کشفی افغان در کار جلوگیری از نفوذ مخالفان مسلح به خصوص افراد انتحاری به داخل افغانستان، سهل انگاری کرده اند.

آنها می گویند که نیاز است تا حکومت بیشتر به تقویت نهاد های کشفی توجه نماید تا جلو نفوذ مخالفان در شهرهای کشور، گرفته شود.

### خلیلزاد و برادران کرزی ...

خلیلزاد [سفیر پیشین امریکا در کابل] پیش استاد عطامحمد نور رفت، کرزی را ملاقات کرد و فلانی ها را دید. گفتم همین نفرهای خود شما این تشویش را ایجاد کرده اند."

او افزود: "از برادران کرزی گرفته تا همه گی، امریکایی هستند."

مارشال فهیم تاکید کرد که اجماع ملی چیزی نیست که زلمی خلیلزاد می گوید. او افزود که باید به آقای خلیلزاد گفته شود که "تو یک امریکایی هستی."

به گفته آقای فهیم، اجماع ملی را تیمی به وجود آورده می تواند که مانند تیم فعلی بر سر قدرت باشد. به نظر او، چنین تیمی می تواند نگرانی های مردم را نسبت به اوضاع پس از سال ۲۰۱۴ رفع کند.

سال ۲۰۱۴ به دلیل برگزاری انتخابات ریاست جمهوری و انتقال کامل مسئولیت امنیتی از نیروهای بین المللی به نیروهای داخلی، برای افغانستان اهمیت فراوانی دارد.

قرار است تا پایان این سال بخش اعظم نیروهای بین المللی مستقر در افغانستان، این کشور را ترک کنند. شمار کمی از این نیروها در افغانستان باقی مانده و عمدتاً مسئولیت آموزشی و پشتیبانی نیروهای افغانستان را به عهده می گیرند.

### د ملکیانو په مرګ ژوبله کې ۲۴ ...

هم د حکومت د وسله والو مخالفینو فعالیتونه د ملکیانو د مرګ ژوبلې اصلي لامل بلل شوی. په دې څېړنه کې راغلي، چې د روان میلادي کال په پنځو میاشتو کې ملکیانو ته څلور اویا فیصده مرګ ژوبله د وسله والو مخالفینو له خوا اوښتي ده.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي یان کوبیش د سې شنبې په ورځ د دې څېړنې د خپریدو پرمهال وویل، د ۲۰۱۳ کال له پیل راهیسې تر اوسه نږدې دوه نیم زره ملکیان وژل شوي او ټپیان شوي، چې یوویشت فیصده یې ماشومان دي:

"د روان کال د جنورۍ له پیل څخه د جون ترشپږمې نیټې پورې موږ د ملکیانو د مرګ ژوبلې ۲۴۹۹ پېښې ثبت کړي، دا پېښې ټولې د جګړې له امله رامنځ ته شوي.

د ۲۰۱۲ میلادي کال همدې مودې نه کتو د ملکیانو په مرګ ژوبله کې ۲۴ فیصده زیاتوالی راغلی. یوه موضوع چې ډېره د اندېښنې وړ ده هغه دا ده چې، د دې مرګ ژوبلې یوویشت فیصده وژل شوي او ټپیان ماشومان دي، چې دا د منلو وړ نه دي."

ښاغلي کوبیش وویل، چې د مخامخ انتحاري حملو له کبله بیا د ملکیانو په وژنه کې سږ کال ۲۴ فیصده کموالی راغلی.

د ملګرو ملتونو په دې نوې څېړنه کې ملکیانو ته د اوښتې نهه فیصده مرګ ژوبلې مسولیت پر افغان ځواکونو اچول شوی دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي په مرستندویه ادارو باندې د وسله والو مخالفینو حملې هم د اندېښنې وړ وبللې او زیاته یې کړه، چې اصلي قربانیان یې بې وزله کسان دي، ځکه چې کیدای شي مرستې ورته کمې شي.

یان کوبیش ملکیانو ته د مرګ ژوبلې د ډېریدو عوامل داسې په ګوته کړل:

"دا ټول د دې لپاره په خپل قوت دوام لري، چې وسله وال مخالفین د ملکیانو خوندیتوب، د قانون حاکمیت او نړیوالو بشري قوانینو ته پاملرنه نه کوي.

دا ډېر حساس کال دی، ډېر ژر به افغان ځواکونه د ټول هېواد امنیتي مسولیت او رهبري په غاړه واخلي.

نو مخالفین هڅه کوي ترڅو دا ثابته کړي، چې افغان ځواکونه په هغه موقعیت کې نه دي چې دا کار وکړي."

یان کوبیش وویل، د ملکیانو وژنه یو جنایت دی او باید چې عاملین یې محاکمه شي.

د ملګرو ملتونو دې چارواکي وویل؛ چې د روانې میلادي میاشتې په شلمه نیټه به د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د افغانستان په اړه بحث وشي.

دغه رنګ مرتاسې غوره است ګرغولي باست چې پر خلکو ګرامان اوسي
# شهادت (ورځپاڼه)
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com




# افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

## واشنګټن پوسټ: په پسرلني جګړو کې طالبانو لاسته راوړنې نه درلودې

وال سټریټ ژورنال په کابل کې د دوشنبې د ورځې د حملې په اړه یوه مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼه لیکي: د کابل د هوايي ډګر شاوخوا ته حملې ډېرې کمې دي او دې هوايي ډګر ته د پروازونو د جریان مختل کېدل هم په ندرت پېښېږي.

د دوشنبې تر حملې څو ساعته مخکې ولسمشر کرزی له همدې هوايي ډګر څخه دوحې ته الوتی وو؛ څو له قطري چارواکو سره د طالبانو لپاره د سیاسي دفتر د پرانیستلو په اړه خبرې وکړي.

وال سټریټ ژورنال د ایتلافي ځواکونو په حواله لیکي؛ چې حمله کونکي ونه توانېدل چې په هوايي ډګر کې د دوې د اډې شاوخوا ساحې ته ورننوزي.

دا په دوو وروستیو اونیو کې په کابل ښار کې دوهمه ستره حمله ده. تیره میاشت وسله والو په کابل کې د مهاجرت د نړیوال سازمان پر دفتر وسله واله حمله وکړه او وروسته بیا په جلال اباد کې د سره صلیب د نړیوال سازمان پر دفتر حمله وشوه.

ډیلي ټیلګراف ورځپاڼه لیکي، چې ډیر کله په کابل کې د داسې حملو پړه په پاکستان کې د میشتې حقاني شبکې په غاړو ور اچول کېږي؛ چې له وسله والو طالبانو سره نږدې ملګرتیا لري او له القاعده سره هم تړلې بلل کېږي.

د کابل د حملې پر یوه بل اړخ د ډیلي ټیلګراف ورځپاڼې لیکلي دي: څارونکي باور لري چې دا حملې د هغې ستراتیژۍ یوه برخه ده، چې هدف یې تر ۲۰۱۴ کال وروسته د طالبانو په وړاندې په مقاومت کې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د قابلیت په اړه د پوښتنو پیدا کول دي.

د ډیلي ټیلګراف په لیکنه سره له دې چې د افغانستان امنیتي ځواکونه د نړیوالو قواوو له خوا روزل شوي خو بیا هم داسې اندیښنې شته چې ښايي دا ځواکونه تر دولس کاله جګړې وروسته د امنیت په ټینګولو بریالي نه شي.

خو واشنګټن پوسټ ورځپاڼې بیا د افغانستان د وضعیت په اړه له خوشبینۍ ډکه تحلیلي لیکنه خپره کړې ده.

ورځپاڼه وايي: د افغانستان وضعیت تر هغه څه چې ښايي ډیر امریکاییان فکر کوي د خوشبینۍ وړ دی.

د واشنګټن پوسټ په لیکنه: په روان پسرلي کې شدیدو جګړو څرګنده کړه چې طالبان لا هم پیاوړي دي خو له دې سره هم نه دي توانېدلي چې ډېر د پام وړ پرمختګ وکړي.

ټاکل شوې راتلونکې اونۍ په افغانستان کې د امنیتي مسولیتونو د سپارلو پینځمه مرحله پیل شي.

د واشنګټن پوسټ په وینا، افغان امنیتي ځواکونه به له دې سره په ټول هیواد کې د امنیت ټینګولو لپاره یوې ډیرې حساسې مرحلې ته داخل شي.

واشنګټن پوسټ په افغانستان کې د ولسمشرۍ د ټاکنو ته په اشاره کې لیکلي چې د راروان کال د ټاکنو لپاره د نومونو د ثبت پروسه پیل شوې ده.

د ورځپاڼې په وینا، ټاکل شوې چې افغانان د ډیموکراتیکو انتخاباتو له لارې نوی جمهور رییس غوره کړي چې ښايي په دې هیواد کې د نوي سیاسي ثبات لپاره یو چانس وي.

### ګشایش دفتر برای طالبان در ...

افغانستان به رادیو آزادی گفت: قطر تعهد کرده که با حکومت افغانستان در پروسه صلح، همکاری همه جانبه خواهد نمود.

آقای فیضی در پاسخ به این سوال که در دیدار حامد کرزی و رهبران قطر، مساله دفتر طالبان هم مورد بحث قرار گرفته و یا هم برای گشایش این دفتر کدام پیشرفتی شده، چنین گفت:

"موضوع تنها بسته گی به تحریک طالبان ندارد، تنها به کشور قطر ارتباط ندارد، تنها به افغانستان هم مربوط نمی شود، بلکه در اینجا کشور های متعددی دخیل استند در پروسه صلح افغانستان، و مذاکراتی که ما از بسیار مدت زمان منتظرش استیم، صورت نمی گیرد، یگانه دلیلش همین پیچیده گی موضوع است، با این که کشور های مختلف در این پروسه دخیل استند با اهداف مختلفی که دارند."

حکومت افغانستان می گوید: هدف سفر رییس جمهور کرزی به دوحه، شرکت در کنفرانس امریکا و جهان اسلام و دیدار و مشوره با مقامات و رهبران قطر، در مورد وضعیت فعلی افغانستان و پروسه صلح در این کشور بود.

سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان می گوید: حامد کرزی و اعضای هیات همراه او در این سفر، با اعضای گروه طالبان در قطر کدام تماس و یا دیداری نداشته است.

وی در مورد گفت:

"یک تعداد از افراد به نماینده گی از طالبان در شهر دوحه حضور دارند، اما طوریکه گفتم، هدف سفر رییس جمهور، اول اشتراک در کنفرانسی بود که تحت نام امریکا و جهان اسلام برگزار شد و در پهلوی آن، ملاقات و مذاکره با مقامات قطری به خصوص امیر قطر بود."

پیش از این رییس جمهور کرزی یک بار به دوحه سفر کرده و هر چند قطر در گذشته هم برای داشتن نقش در روند صلح افغانستان تعهد کرده بود، تا حالا از گشایش دفتر طالبان در قطر خبری نیست و هم در پروسه صلح افغانستان، کدام پیشرفتی مشخص صورت نگرفته است.

### دسي آی اې پخواني کارکونکی ...

له دې مخکې د سي ای اې پخواني مرستیال تخنیکر ستوډن ویلي و، د برزم نومي پروګرام افشا کولو پرېکړه یې د ټولې نړۍ د خلکو ازادۍ ژغورنې لپاره کړې.

د نوموړي په وینا له استبداد نه د ازادو خلکو ژغورل یې مسؤولیت دی.

ایډورډ د امریکا د ملي امنیت د ادارې له خوا په پراخه کچه د ټیلیفون او انټرنیټ څارنې د پروګرام په باب د برتانیا ګارډین ورځپاڼې ته ویلي ؤ او یادې ورځپاڼې د هغه په غوښتنه د نوموړي نوم افشا کړ.

ایډورډ برتانوي ورځپاڼې ته ویلي ؤ، زه نه غواړم داسې ټولنه کې ژوند وکړم، چې په کې دغه ډول کارونه کېږي، زه نه غواړم داسې نړۍ کې واوسېږم، چې زما هر قول او فعل په کې ثبت کېږي.

د یادونې وړ ده، چې برتانوي ورځپاڼې ګارډین یوه ریوټ کې ویلي ؤ، چې ګواکې د امریکا ملي څارګره اداره، په پراخه کچه د انټرنیټ او ټیلیفون څارنه کوي.

د ورځپاڼې په ریوټ کې ویل شوي وو، د څارګرې ادارې د دې پروګرام له مخې د خلکو شخصي ویډیو ګانې، انځورونه او برېښنالیکونه کتل کېږي، چې یو شمېر خاص خلک په نظر کې وساتل شي.

له دې وروسته دامریکا د ملي امنیت اداري مشر جیمز کلیر منلي وه، چې حکومت له انټرنیټي خدمتونو وړاندې کونکو کمپنیو څخه د مشتریانو د خبرو اترو ریکارډ تر لاسه کوي، خو نوموړي ویلي و، د معلوماتو تر لاسه کولو د پالیسۍ هدف (یوازې بهرنیان) دي.

هانګ کانګ کې د میرا هوټل کارکونکي وايي ایډورډ ستوډن د دوشنبې په ورځ دغه هوټل پرېښود.

د هانګ کانګ خایي ټلویزیون ار ټي ایچ په یوه ریوټ کې د هوټل کارکونکو له قوله ویل شوي، چې نوموړی د دوشنبې په ورځ له میرا نومي هوټل څخه ووت. ایډورډ د مې په ۲۰ هانګ کانګ ته ورسېد او ویل کېږي، چې نوموړی د ۹۰ ورځو ویزا لري.

د امریکا واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په یوه ریوټ کې ویل شوي وو، چې د امریکا څارګرې اداري د انټرنیټ د نهو لویو کمپنیو له سرورنو د مشتریانو اړوند معلومات په مستقیم ډول تر لاسه کوي.

دې کمپنیو کې فیس بوک، یوټیوب، سکایپ، ایپل، پال ټاک، ګوګل، مایکروسافټ او یاهو هم شامل دي.

د دې ریوټونو له خپرېدو وروسته د ورلډ وایډ ویب (WWW) پنځونکي سرټیم برنرز د پرزم پروګرام په باب ناراضي ښوولې، ویې ویل چې د امریکا د حکومت دغه اقدام د بنسټیزو بشري حقونو څخه سر غړونه ده.

### توحیدي: اطلاعاتو او فرهنګ ...

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وايي، د ډله ییزو رسنیو د کمیسیون جوړولو ته یې هڅې تیزې کړې دي.

د افغانستان د ژورنالیستانو د مختلفو اتحادیو مسؤلینو د اطلاعاتو او فرهنګ پر وزارت غږ وکړ؛ چې له کړې ژمنې سره سم دې د "رسنیو د سرغړونو کمیسیون" لغوه او پرځای دې د "ډله ییزو رسنیو کمیسیون" جوړ کړي.

د دې اتحادیو مسؤلینو د سې شنبې په ورځ په کابل کې په یوې ګډه خبري ناسته کې وویل، د رسنیو د سرغړونې کمیسیون د خپل فعالیت په موده کې نه یوازې دا چې د رسنیو او ژورنالیستانو ستونزې نه دي اوارې کړې بلکې په ځینو مواردو کې یې ژورنالیستانو ته په لوی لاس ستونزې پیدا کړې او ان څارنوالۍ ته یې معرفي کړې دي.

د افغانستان د ازادو ژورنالستانو د ملاتړې اداري د څار د څانګې مشر ژورنالیستانو صدیق اله توحیدي وویل:

"هغه کمیسیون چې له درې کالو راهیسې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په غیر قانوني توګه ساتلی او کار ته دوام ورکوي، د رسنیو د قانون له مخې وزارت تر اوسه د ټولینزو رسنیو کمیسیون نه دی جوړ کړی، یو ځل بیا هیله کوو، چې کوم کمیسیون چې قانون پیشنهاد کړي باید جوړ شي."

په دې خبري ناسته کې د نی یا د افغانستان د ازادو رسنیو د ملاتړې اداري، د افغانستان د ژورنالیستانو د ملي اتحادیې او د سفما یا د جنوبي اسیا د هېوادونو د ژورنالیستانو د اتحادیې چارواکو ګډون کړی و.

د دې ارګانونو مسؤلینو هر یوه په خپل وار څرګندونې وکړې او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت یې د مطبوعاتو د قانون په نه پلي کولو او له رسینو سره په نه همکارۍ تورن کړ.

ژورنالیستان وايي، د رسنیو د سرغړونو په کمیسون کې اکثره حکومت پلوه افراد ځای شوي او پریکړې یې د رسنیو د کارکوونکو په ګټه نه دي.

یوه ژورنالیست جاوید ازادی رادیو ته وویل:

"موږ غواړو د رسنیو د سرغړونو د کمیسون پرځای دې د ډله ییزو رسنیو کمیسون جوړ شي، ځکه د سرغړونو د کمیسون اکثره غړي د دولت پلویان دي او د ژوناليستانو په حق کې پریکړې نه کوي."

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وايي:

تر اوسه چې د هېواد د رسنیو او ژورنالیستانو په هکله هر تصمیم نیول شوی، د ژورنالیستانو مشورې په کې شاملې دي.

د دې وزارت مشاور جلال نوراني ازادی راډیو ته وویل، د »ډله ییزو رسینو د کمیسون «پر جوړولو مشورې روانې او له یو لړ بحثونو وروسته به فعال شي:

"د ټولنیزو رسنیو کمیسیون تر اوسه جوړ شوی نه دی، خو د رسنیو د سرغړونې د کمیسون جوړول د وخت ضرورت و او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په پیشنهاد او د جمهوررییس په منظور جوړ شوی، نو ترڅو چې د ټولنیزو رسنیو کمیسون جوړیږي، د رسنیو د سرغړونې کمیسون به په د ستونزو د حل لپاره فعال اوسي."

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او په هېواد کې د ژورنالیستانو د اتحادیو ترمنځ اختلاف نوې خبره نه ده بلکې څو کاله کېږي چې د رسینو لپاره د کمیسیونونو پر جوړولو او د مطبوعاتو د قانون د پلي کولو پر سر د دوی ترمنځ شخړې روانې دي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د معلوماتو له مخې په وروستیو لسو کلونو کې په هېواد کې څه باندې شپیته تلویزیونه، له سلو زیاتې راډیوګانې، په لسګونو ورځپاڼې او داسې نورې خپرونې فعالې دي؛ خو ژورنالیستان وايي اوس هم دوی د مسلکي فعالیتونو مناسبې زمینې نه دي برابرې شوې.

دوی وايي، چارواکي پر وخت معلومات نه ورکوي او په ځینو مواردو کې ګواښل کېږي هم.

### تخریب تصویر ترکیه براساس ...

قرار است رجب طیب اردوغان فردا چهارشنبه با نماینده گان تظاهرات ملاقات کند.

صدراعظم ترکیه گفته است، تظاهر کننده گان دارای خواسته های قانونی نباید با کسانی به اشتباه گرفته شوند که می خواهند تصویر ترکیه را تخریب کنند.

وی همچنان برخی رسانه غربی را به ارایه، معلومات نادرست در مورد رویداد ها در میدان تقسیم ترکیه، متهم ساخت.

در این حال صبح امروز پولیس ترکیه برای تخلیه، میدان تقسیم استانبول در برابر تظاهر کننده گان از گاز اشک آور و توپ های آب استفاده کرد.

تعدادی از تظاهر کننده گان هم با استفاده از بمب های آتشین و مواد آتش بازی به عملکرد پولیس پاسخ دادند.

اردم گونیش (Erdem Gunes) خبرنگار روزنامه، حریت، با تصویر رویداد های روز سه شنبه در استانبول می گوید:

"پارک هنوز هم در کنترول تظاهر کننده گان قرار دارد، اما سایر بخش های میدان تقسیم، منظورم از مجسمه، جمهوریت است که در مرکز میدان قرار دارد و عمارت بزرگ مرکز فرهنگی را پولیس تصرف نموده است. پولیس عمارت مرکز فرهنگی اتاترک را از وجود همه، شعار ها و بیرق ها را پاک کرده، صرف بیرق ترکیه را افراشته است."

تظاهرات ضد حکومتی به تاریخ ۳۱م ماه می بعد از آن آغاز شد که پولیس ترکیه اعتراضات صلح آمیز با برنامه، انکشافی یک پارک در میدان تقسیم را با خشونت سرکوب کرد.

در اثر این تظاهرات که یک آزمون جدی برای رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه و حزب عدالت و ترقی برسر اقتدار وی محسوب می شود، تا اکنون سه تن کشته و حدود ۵۰۰۰ تن دیگر زخمی شده اند.